OUR RIGHTS
OUR FREEDOMS
ALWAYS
HUMAN RIGHTS DAY 2015



داکتر طلا پا مير

06/12/2015

# د بشر حقوق
# هيلې او واقعيتونه

د د سمبر دمياشتې لسمه د نړيوالې ټولنې په تاريخ کې دبشر د حقو قو(حقونو) د ورځې په نوم ليکل شوې ده. دا ځکه چې، د ۱۹۴۸کال ددسمبر د مياشتې په لسمه نېټه د ملګرو ملتونو عمومي غونډې ( عمومي اسامبلې) د بشر دحقوقو نړيواله اعلاميه تصويب کړه او دوه کاله وروسته د ۱۹۵۰ کال د دسامبر په څلورمه نېټه، نړيوالې ټولنې د ملګرو ملتونو په کلنۍ عمومي ناسته کې يو ځل بيا د بشر پر روا حقوقو خپل باور او دغه حقوقو ته ژمنتوب اوهوډ تازه کړ. په دغه ناسته کې پريکړه وشوه چې د د سمبر لسمه دې هر کال دبشر د حقوقو د نړيوالې ورځې په نوم و لمانځل شي.

د بشري ټولنې په تاريخ کې، د انسانانو له لمړنيو ټولنو نه را نيولې بيا زمونږ تر زمانې او شلمې پيړۍ پورې ( په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د سازمان تر جوړيدو پورې) د وګړو د حقوقو ، آزاديو او په دغه يا هغه بڼه د عدالت او عدالت غوښتنې نظريې او بيلګې کمې نه دي. شک نشته چې مخکنيو فلسفي نظريو اوحقوقي بيلګو لکه: د انګلستان مګنا کارتا منشور( the Great Charter of the Liberties 1215)، د انګلستان د حقوقو ميثاق (Bill of Rights 1689)، دانګلستان دقضا قانون (Habeas Corpus Act 1679 )، د فرانسې د بشر د حقوقو اعلاميه ( Declaration of the Rights of Man and of the Citizen 1789 ) ، د امريکې اساسی قانون ( United States Constitution(1791 ) او نورو دې ته ورته سر چينو د بشري ټولنې د حقوقي شعور کچه لوړه او د وګړوتر منځ يې دآزادۍ، برابرۍ او عدالت لپاره خوځښتونه اوغورځنګونه را وپارول اوپه ځينو هيوادونو کې ( په ملي کچه) دو ګړو يولړ مدني حقوق په قانون کې ځای پر ځای شول خو، له هر ډول نژادي، تو کميز، مذهبي، فرهنګي، جنسيتي، طبقاتي، اقتصادي، ټولنيز او بل هر راز توپير او تبعيض پرته د ټولو انسانانو (بني بشر) لپاره ( هر چيرته چې وي) د يو شان ( معياري) حقوقو او آزاديو د منلو اصل د لمړي ځل لپاره د بشر دحقوقو په نړيواله اعلاميه کې تسجيل شو.

له دی کبله، ويلای شو چې د بشر د حقوقو نړيواله اعلاميه د اوسنيو ( معاصر) نړيوالو حقو قو د يوې نه جلا کيدونکې برخې په توګه د بشر د منل شويو حقو قو بنسټ ( سنګپايه) جوړوي.

په دغه اعلاميه کې ټول انسا نان هر چيرته چې اوسيږي د يوې لويې بشري کورنۍ متساوي الحقوقه غړي بلل شويدي.

د بشر د حقوقو د نړيوالې اعلاميې په سريزه کې را غلي دي چې : دبشري کورنۍ دټولو غړو د ذاتي کرامت او د هغوی د برابرو او نه بېليدونکو حقوقو پيژندل په نړۍ کې د سولې، آزادۍ او عدالت بنسټ (بنياد) جوړوي.

همدا شان، د اعلاميې په لومړۍ ماده کې د بشري کورنۍ د ټو لو غړو پر يو شان انساني کرامت او حقوقو ټينګار شوی دی "ټول انسانان ( نوع بشر) د خپل کرامت او حقوقو له پلوه آزاد زيږيدلي دی؛ هغوی د عقل او وجدان څيښتن دی او ښايي چې يو له بل سره په خپلو اړيکو کې د ورورۍ په روحيه چلند و کړي".

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه سره له دی چې حقوقي الزام نه لري خو، د خپل سیاسي، ټولنیز ، اخلاقي اعتبار او پر ټولنیز وجدان د خپل ژور اثر په وجه د ملګرو ملتونود سازمان تر منشور وروسته خورا مهم سند دی.

په دغه اعلامیه کې هر چیرته او په هر وخت کې، د انسان د ذاتي کرامت د پیژندلو، منلو او درناوي لپاره لوړې هیلې را نغښتې دي. همدغه د ټول شمولتوب اصل، ددولتي او ملي پولو نه بهر، هر چیرته ، په هر وخت او په هر راز شرایطو کې (د جګړې په شرایطو کې همدا شان) د انسان ذاتي کرامت ته درناوی د بشر د حقوقو د نړیوالی اعلامیې او د بشر د اوسنیو( معاصر) نړیوالو حقوقوتر ټولو غوره ځانګرتیا ده. د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په دوهمه ماده کې را غلي دي چې:

"هرڅوک، له هر راز داسې تو پیر پرته چې پر نژاد، د پو ستکي په رنګ، جنس، ژبه، دین، سیاسي او یا کوم بل باور، ملي یا ټو لنیز ه منشا، شتمنی، زیږیدنې یا کوم بل وضعیت ولاړ وي، باید دټولو هغو حقوقو نه چې په د غه اعلامیه کې راغلي دي، برخمن شي؛

سر بیره پر دې، د یوه هیواد (دولت) یا یوې خاورې سیاسي، حقوقي او نړیوال وضعیت نباید د هغو وګړو په وړاندې د توپیر سبب وګرځي چې ور پورې اړه لري، که څه هم دغه دولت او یا خاوره خپلواکه وي ، تر قیمو میت(Trust) لاندې، بې واکه وي اویا یې ځپلواکي په یو یابل ډول محدوده شوې وي".

مخکې مو وویل چې د بشر په نړیواله اعلامیه کې د آزاد انسان آرمان(ایدیال) او له هر راز تو پیر پرته او هر چیري د انسا ن ذاتي کرامت اوحقوقو ته د درناوی لپاره ستری هیلې را نغښتې دي. اوس پو ښتنه داده چې دغه هیلې تر کومه بریده (حد) پوره شوې دي؟

زما په اند د غه پو ښتنې ته د هو او نه، یووستوی ځواب نشو ویلای.

د بشر د نړیوالې اعلامیې تر منلو را وروسته په (۶۷) کلونو کې د بشر د حقوقو په نړیوالې اعلامیې کې درا نغښتو آرمانونو او هیلو د پوره کولو په لار کې بې ساری پرمختګ شوی دی. په دې موده کې د انسانو د مدني- سیاسي ، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو د تعریف ، تسجیل او پلي کیدو په مخه په نړیواله او سیمه ایزه کچه څه ناڅه ( ۲۰۰) ارز ښتناکې هوکړې (تړونونه) لاسلیک شوې چې ځینې یې الزامي قوت لري.

سږ کال د د سمبر د میاشتې لسمه (د بشر د حقونو نړیواله ورځ) د " تل د ې وي زمونږ حقوق او آزادي ګا نی " تر شعار لاندې د بشر د حقوقو د نړیوالو میثاقونو پنځو سمې کلیزی ته ځانګړې شویده چې په (۱۹۶۶-۱۹۷۶ ) کال کې تصویب او ومنل شول.

د مدني- سیاسي حقوقو میثاق (International Covenant on Civil and Political Rights ) اود اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقومیثاق (International Covenant on Economic Social and Cultural Rights ) د بشر دنړیوالې اعلامیې ( Universal Declaration of Human Rights ) سره یو ځای د بشر د حقوقو اساسی قانون ( International Bill of Human Rights) بلل شوی دی.

دلته پر ځای بولم چې د ځینو نورو مهمو نړیوالو تړونونو یادونه هم وشي لکه : د ژینو ساید دجرمونو د مخنیوي او سزا ور کولو کنوانسیون( ۱۹۴۸)، د کډوالو د حقوقو کنوانسیو (۱۹۵۱)، د ښځو د سیاسي حقوقو کنوانسیون (۱۹۵۳) ، د هر راز نژادي تو پیر د ختمولو کنوانسیون ( ۱۹۶۶) ، د ا پار تاید ضد کنوانسیون( ۱۹۷۳) د ښځو پروړاندي د توپیر د ختمولو کنوانسیون( ۱۹۷۹)، د شکنجې( وهل- ټکول) او د انساني کرامت ضد چلند د مخنوي کنوانسیون (۱۹۸۴)، د ماشومانود حقوقو کنوانسیون (۱۹۸۹). همدا شان دکار د حقوقو په برخه او دجګړې به حالت کې ( دجګړې قانون) د انسانانو د ذاتی کرامت او حقوقو د خوند یتوب په برخه کې پرمختګ او لاسته راوړنې د پام وړ دي.

نن، د بشر حقوق د ملي کړښو او ددولتونو د حاکمیت له پولې وتلي او د نړیوالو حقوقو یو ځانګړی او غوره څپر کی (فصل) جوړوي. په نړی کې د بشر د حقوقو په څرنګوالي، د ملګرو ملتونو په اداره (چوکات) کې ( ۶ ) کمیټې څارنه کوي. په ( ۱۹۹۳ ) کال کې د ملګرو ملتونودبشر د حقوقو کمیسیون د ملګرو ملتونو د شورا اوعالي کمیشنری کچې ته لوړ شو. په سیمه ایزه او ټولنیزه کچه هم د بشر پر حقوقو د څار کمیسیونونه جوړ شوي دي خو، ددغو ټولو لاسته را وړنو سره سره، نشو ویلای چې د یوه آزاد انسان ( د باوراو دین له مخې، دبیان د آزادی له پلوه، له ویری او فقر نه آزاد انسان) آیدیال، هر چیرته او په هر وخت کې د انسان ذاتي کرامت ته د درناوي لپاره هیلې په بشپړ ډول تر سره شوي دي. ددی لاملونه ډیر دي.

- په لمړي سرکې دا چې، د دو لتونو د ملي ګټو او د و ګړو د حقوقو تر منځ یوه روښانه پو له او یا په بله ژبه " سره کرښه " نه ده را کښل شوې. دولتونو تل خپلو ملي ګټو ته د خپلو وګړو د حقوقو په پرتله

لمړیتوب( اولویت) ورکوي. د ملي کڼو او ټولنیز نظم په پلمه د خپلو وګړو آزادي او اساسي حقوق او نړیوالې ژمنې په پام کی نه نیسي.

د بشریت ضد جنایتونو (اپارتاید او ژینو ساید)، جګړه ایزه جنایتونو او د سولې پر ضد جنایتونو نه پرته، د د ولتونو لخوا د خپلو وګړو پر مدني- سیاسي، اقتصادي، تولنیزو او فر هنګي حقوقو با ندی د تیری د څیړلو او عدالت غوښتنې لپاره کومه ځانګړې او بې پرې نړیواله محکمه یا د عدالت دیوان هم نشته چې د ملي حکومتونو په وړاندې د اړونده وړګړو له منل شویو حقوقو نه ننګه او ساتنه وکړي.

په سیمه ایزه کچه البته، د اروپا یي اتحادیې په اډانه کې د بشر د حقوقومحکمه شته چې واکونه یې یوازې په ځانګړو شرایطو کې د اروپایي اتحادیې د غړو هیوادونو لپاره د اعتبار وړ دي.

نړیوال حقوق له هغوحالاتوپرته چې وړاندې په کوته شول، د وګړو د حقوقي وضعیت تاکل او په دې اړوند عدالت په ټو له کې داخلي یا کورنی صلاحیت ( Domestic Jurisdiction ) ګڼي. پخپله، د بشر د حقوقو میثاقونه، دولتونو ته په دغو میثاقونو کې د ګډول لپاره د " ریزرویشن " مشروط حق ور کوي.

- دوهم لامل، د نړی د هیوادونو نا متوازنه اقتصادي- ټولنزه اوفرهنګي وده ( انکشاف) ، د ټولنیزې ودې او دبشر د حقوقو د نړیوال معیار ( ستندرد) تر منځ ستر واټن دی. دنړی ډیری هیوادونه نشي کولای چې د خپلو وګړو لپاره اړینې آسا نتیا وې او خدمتونه برابر کړي. امنیتی او عدلي نهادونه یې کمزوري، شړیدلي او یا فاسد دي. قانوني او عدلي نظام یې بشپړ نه دی نو په دې وجه د وګړو د حقوقو لپاره سیاسي، حقوقي او قضایي ضمانتونه نشته.

- په ځینو سُنتي ټولنو کې د عامه ولس باور، دود – دستور(تعاملي حقوق) یوبل هغه سترلامل دی چې په دغو ټولنو کې د نویو ارزښتونو او د بشر د حقوقو د غوړیدلو مخه نیسي. د بلګې په توګه، په ځینو مذهبونو او کلتورونو کې د نر او ښځې تر منځ توپیر دیني مشروعیت لري. دا توپیر د ښځې د کار په څرنګوالي، د میراث په حق او قضایي بهیر کې د ښځې دبرخې ا خیستنې اوحق په برخه کې بیخي ښکاره دی. د وګړود باور او عقیدې آزادي هم یو اړخیزه ده؛ یانی داچې په دغه یا هغه دین کې څوک د خپلې عقیدې د بدلون حق نه لري. همدا شان د " شرم "، ننګ او ناموس دود چې په ځینو ټولنو کې تر مذهبي دستورونو زَورې اوغښتلې ریښې لري، د وګړو پر آزادی او حقو قو منفي اغیزه شیندي.

- په وروسته پاتې هیوادونو کې د عامه معارف، ښوونې او روزنې او د وګړو د حقوقي شعور ټیټه کچه هم ددې سبب ګرځي چې په ټو لنه کې د ظلم او استبداد او زور زیاتي (خشونت ) سره د پخلا ینې فرهنګ وده وکړي او د انسان د آزادۍ او اساسي حقوقو لپاره هڅې او هاند له ستونځو سره مخامخ شي.

- د زور زیاتي (خشونت) فرهنګ پخپله، که په تو کمیزو، ژبنیو، مذهبي ، سیاسي- ایدیالوژیکو تو پیرونو بنا وي او یا د یوې کونۍ په کچه وي، د انسانانو لمړني حقوق له منځه وړي.

- په پای کې، نن له علم او تکنالوژۍ څخه ناوړه ګټې اخیستنې اوپه ځانګړې توګه د جنګي تکنالوژۍ هیرانونکې ودې په خپل وار د انسانانو لمړني حق، یاني د بشر دژوند حق ته ستر او یو ربښتنی ګواښ را منځ ته کړی دی. بشري ټولنه له ا تمي جګړې نه د ویرې په سیوري کې ژوند کوي. دا سې جګړه کیدای شي هره کړۍ د انساني خطا په پایله کې او یا داسې بل وضعیت کې چې د مسئولو دولتمشرانو له ارادې وتلې وي، پیل شي اود سترګو په رپ کې ټول بشریت تباه کړي.

د پورتني بحث نه په لنډیز سره یو ې منطقي پایلې ته رسیږو او هغه دا چې:

د آزاد انسان ایدیال او د بشر د اساسي حقوقو لپاره لوړې هیلې یوه اوږده، له ګواښونو او ننګونو ډکه لار ده خو کوم مزلونو چې تر اوسه په دغه لاره کې وهل شویدي، د بشر د نړیوا لو حقوقو د نن ورځې روښانه واقعیت دی.

www.hoqooq.eu